ډاکټر عبدالرحمن زمانی ۲۰۱۷/۰۸/۱۸

# دغازي امان الله خان له نظره

## د خپلواکۍ په ساتنه کې د پوهنې او ښوونې اهمیت

د اسد ۲۸ نیټه د خپلواکۍ د بیرته ګټلو ویاړلې کلیزه ده. د هیواد د خپلواکۍ په لاره کې د ټولو اتلو شهیدانو او غازیانو پاکو ارواحو ته د درود په استولو، غواړم په دغه مناسبت دخپلواکۍ په ساتنه کې د پوهنې او ښوونې  د اهمیت په هکله د انګریزي استعمار څخه د افغانستان د خپلواکۍ د بیا ګټلو د اتل، غازي امان الله خان، د الهام بښونکو ویناو څخه یو څو برخې تاسو په خپلواکۍ او آزادۍ مینو هیوادوالو ته وړاندې کړم .

**خپلواکي ورکول کیږي نه، بلکې اخیستل کیږي.** خپلواکي کوم داسې څیز نه دئ چې څوک یې چاته ورو‌ښيي . دا استقلال مونږ ته چا بخښلې نه دئ، بلکې خدای تعالی پر مونږ د دغه ستر نعمت پیرزوینه کړې ده، او د وینو په توئیدو او توري په زور تر لاسه شوی دئ (۱).
د خپلواکۍ ګټل او وساتل په ثابت عزم، زړورتیا، بیدارۍ، سربښیندنې او یووالي سره کیږي (۲)،  خو « دخپلې خپلواکۍ ساتنه باید څرنګه وکړو؟ آیا د خپلواکۍ ساتنه په دغه اوسنیو رنګارنګو بیرغونو او ښکلاوو سره ترسره کیږي؟
نه ! د خپلو بچیانو او هغه نسلونو په زړونو کې چې له دویه پیدا کیږي ، د هیواد پالنې او سربښیندنې (فداکارۍ) حس پیدا کړو . ځکه کله چې فداکاره اوسو، هیڅ وخت به خپلواکي له لاسه ورنکړو. او کله چې مو صالحه اولادونه د پوهې او تربیت خاوندان اوسي، د وینې د توئیدو اړتیا هم نه وي، او پوهنه  به یې ساتنه وکړي .
که چیرې ستاسې اولادونه د پوهې او تعلیم خاوندان اوسي، نوحسودان او ستاسې د خپلواکۍ لیوني دښمنان  ستاسې په دغه شرف او خپلواکۍ تیری کولای نشي . نو ځکه د پوهنې او ښوونې په برخه کې زیار وباسئ »  (۳).
غازي امان الله خان په خپله وینا کې بهرنیو  هیوادونو ته د زده کوونکو استولو ته په اشارې سره خلک تشویق کړل چې که څه هم  د ګرانو اولادونو جلا کول او زده کړې ته لیږل سخت وي، خو دابه په هیواد کې د جهل د مخنیوې او پوهنې  په لاره کې ددوی داسې سربښندنه او فداکاري وي، کومه چې یې د خپلواکۍ دپاره کړې وي .
غازي امان الله خان د پوهنې د اهمیت په هکله ټینګار کولو او حتی کله چې به یې د جمعې او اختر د لمونځونو امامت کوو، نو په خطبو کې به یې هغې ته اشاره کوله :
«زما ورونو!
که د ځینو چارو په هکله تاسې ته توصیه کوم، لدې امله نه ده چې تاسې پرې نه پوهیږئ . تاسې هر یو په دې شیانو ښه پوهیږئ. زما مقصد یواځې دادئ چې د پوهنې له مخې پدې شیانو پوهیدل ګټور او حقیقت ته نږدې وي . ځکه چې هر څه په پوهنې پورې اړه لري. هغه ملت چې پوهنه نلري، هیڅ شئ نلري، او په ژوندیو ملتونو کې نه شمیرل کیږي . که د پوهنې په ډګر کې کوښښ وکړواو د هغې په ترلاسه کولو کې د خپلو لاربښوونکو د سپارښتنې  پر بنسټ عمل وکړو، ورځ تر ورځې به پرمختګ وکړو.
پاملرنه وکړئ چې حضرت رسول الله (ص) د پوهنې حاصلولو ته تر کومې اندازې اهمیت ورکړئ دئ چې  (اطلبو العلم  ولو کان بالصین) عربان چین ته صین وائی  یعنې علم حاصل کړئ که څه هم په چین کې وي. د صنعت او تجارت او نورو شیانو پرمختګ ټول په علم پورې تړلي دي، ژوند په علم پورې تړلي دئ .
حکومت د تعلیم سامان، معلم، ښوونځي او هر څه برابر کړیدي. اوس هغه وخت تیرشوې چې خلکو به خپلو بچیانو ته شتمنې ټولوله او بچیانو به یې څه  لس ورځې په عیش تیرولې، خو څرنګه چې نه پوهیدل، نو ټوله شتمنې به یې ضایع او له منځه تلله  .  نه! خپلو بچیانو ته پوهه ورټوله کړئ . ځکه چې د هر چا رښتینې شتمنې د هغې پوهه او معارف دئ ، او د علم خزانه له منځه تلونکې نه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**اوس ټول خلک سره برابر دي او ددوي تر منځ هیڅ توپیر نشته. الحمدالله مونږ مسلمانان یو او هیڅ کس پر بل لوړوالي نلري. هغه وخت چي پرخپل خاندان به مو ویاړ کوو، تیر شویدئ . یواځي هغه کسان چي علمي پانګه او د پوهي تجربه یي لوړه وي، میدان ګټي.**
که څه هم دا شیان چي زه درته وایم، الحمدالله تاسي ټول پرې پوهیږئ، خو زړه مي درد کوي! غواړم چه ښه پرې پوه شئ.
په خلکو کي یوه اصطلاح ده چي زه د توري (شمشیر) بچي یم. ما په پیل کي عرض وکړ چي توره په پوهي جوړه شویده. که پوهه نه وای، په نړئ کي به توره هم نه وای.نو ځکه تر هر څه دمخه ښووني ته پاملرنه وکړو.
د علم زده کړه یواځي په کوچنیتوب پوري اړه نه لري، بلکي کوچنیانو او لویانو ته علم ضروري دئ (اطلبو العلم من المهد الی اللهد) یعني له هغه وخته چي په ځانګو کي یاست تر څو چي مره کیږئ او لحد ته ښکته کیږئ، زده کړه وکړئ» (۴).
غازي امان الله خان د علمي پرمختګ په هکله ویل: **«هغه ملت چي پوهه ونلري، هیڅکله د خپلو حقوقو ساتنه نشي کولای، او هرومرو به نور د هغوئ پر مشروعه حقوقو د تیري لاس ورغځوي .**
**ترا علم در دین و دنیا تمام**
**که کار تو از علم ګیرد نظام**
**که تاسي علمیت او پوهه ولری، څوک هم ستاسي پر حقوقو تیري کولای نشي . که تاسي په ربښتیا سره د پوهني په ډګر کي کوښښ ونکړئ، خپله آزادي او خپلواکي ساتلی نشئ»**(۵).

پای

ماخذ:

1. امان افغان، دوهم کال ۴۶-۴۵ ګڼه، د ۱۳۰۱ لمریز هجري کال د وږي ۳۰مه (۱۹۲۲ د سپتمبر ۲۱مه نیټه (د استقلال د څلورمي کلیزې په مناسبت د غازي امان الله خان وینا).
2. دزمري د میاشتي په ۱۱مه نیټه، د پغمان په عمومي بڼ کي دخپلواکۍ د پنځم تلین د مراسمو د پیل وینا
3. انیس ، د ۱۳۰۶ کال د وږي د میاشتي ۱۶ نیټه (د خپلواکۍ د ګټلو د نهمي کلیزي د پرانیستلوپه مراسمو کي د غازی امان الله خان وینا)
4. امان افغان، د څلورم کال ۱۸، ۱۹، او ۲۰مه ګڼه، د ۱۳۰۲ کال د تلي د میاشتي لومړی نیټه (د لوی باختر په ورځ د اعلیحضرت امان الله خان خطبه).
5. امان افغان، د پنځم کال ۴۵مه ګڼه، د ۱۳۰۳ کال د کب د میاشتي ۱۶مه نیټه (په سلامخانه کي د جشن په مناسبت د غازي امان الله خان وینا).




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ